مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۴/۰۹/۲۱

# د پاکستان اټومي وسلو ګواښ

## د پاکستان اټومي وسلې څومره خوندي دي:

د پاکستان اټومي پروګرام ګواښ نړۍ اندېښمنه کړي ده. د ګاونډۍ هیواد هند سره د احتمالي هستوي جګړه پیل همدومره بالقوه وحشتناکه او ویرونکی ده، لکه دا پوښتنه چې د پاشلکیدونکي او له سقوط سره مخ پاکستان اټومي وسلي د ترهګرو لاسونو ته ورلویدونکي دي. د پاکستان اټومي وسلي د جګړې پټ خطر او پاکستاني پوځ کې د ترهګرپالو کدرونو شتون د خطر یوه بیساري سرچینه ګڼل کیږي. د شمالي کوریا په پرتله د پاکستان د اټومي ګواښ څښت ډیر دی. دا شوني دي او د دې ګواښ شته، چې ترهګرو اورپکي ډلي د پاکستان اټومي وسلو ته لاسرسی ومومي. د پاکستان اټومي ځواک ورځ تر بلې د افراطیت او ترهګرۍ په ګرداب کې ورډوبیږي. نن د پاکستان ډیرې سیمې د یاغیانو لخوا کنټرولیږي او د پاکستاني حکومت تر ولکې وتلي دي.




د پاکستان اټومي وسلي د وسله والو ترهګرو ډلو ټپلو لاسته ورلویدونکي دي. د پاکستان سیاسی وضعیت چې هر څوک ارزیابی کوي، یوه خبره په کې ښکاره ده، چې پرته له شکه پاکستان په اټومي وسلو سمبالو هیوادونو کې یو بې ثباته ناامنه هیواد دی. یوازې د پاکستان پوځ یو ځانګړي ځواک په اټومي میزایلونو او بمونو باندې کنټرول لري. اوس د دې خطرناکي وسلې ساتل او خوندیتوب ورته ډېر ګران شوي دي. له بلې خوا ډیر شواهد دا هم په ډاګه کوي، چې د پاکستان پر اټومي وسلو د امریکا کنټرول خورا پراخ دی. د امریکې استخباراتو له اوږدې مودې راهیسې د پاکستان اټومي وسلو خوندي کولو لپاره بیړني پلانونه چمتو کړي دي. واشنګټن پوسټ راپور ورکړی، چې په دې پلانونو کې ظاهراً داسې پلانونه هم شامل دي، د پاکستاني پوځ د نه همکارۍ کولو په صورت کې بیا به هم عملي شي. ځکه په نړۍ کې د نهو زېرمه شویو اټومي وسلو ځواکونو په پرتله بل هیڅ یو هیواد واشنګټن لپاره د اندېښنې ورنه نه دی لکه پاکستان.

د پاکستان اټومي وسلې یو ځای نه ساتل کیږي، نه په بشپړه توګه سره ترلي شوي دي او سمدستي کارولو ته چمتو هم نه دي. اټومي پرزې او مواد په ټول هیواد کې په شپږو پټو ځایونو او تونلونو کې سره ویشلي شوي دي. څو د هند احتمالي بریدونو اسانه هدف ونه ګرځي. د اټومي هستوي وسلو اجزاوې یا پرزې یې په جلا جلا توګه زیرمه کړې دي. دا د اټومي وسلو د غلا کولو په وړاندې محافظتي امنیتي اقدامات هم دي. د یوه اټومي بم اجزاوې یا ټوکې غلا کول هم ډېر خطرناکه پریوځي.

د اټومي انرجۍ نړیوالې ادارې مشر محمد البرادعي څو میاشتو مخکې د جرمني په مطبوعاتو او رسنیو کې خبرداری ورکړ: ,, یوه اټومي جګړه رانږدې شوې ده,, [1] په هر صورت مصري ډیپلومات د دوو اټومي هیوادونو ترمنځ د اټومي شخړې یا جګړې په اړه لږ اندېښمن دی. څو نوموړي د دې خطر په اړه چې د اټومي وسلو ټېکنالوجي یا د اټوم بم جوړولو لپاره مناسب ټوکي د جنایتکارو او مجرمو رژیمونو یا پر نړیوال کچ د فعالو ترهګرو لاسونو ته

[1] Vgl. Der Spiegel, Nr, 5/2004, S. 104


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ورلويږي. دا کيداې شي، چې د نړۍ پر کچ په جګړييزو بحراني سيمو کې يو اټومي بحران رامنځته کړي. حتی د راډيو اکټيفي موادو يا فعالو اټومي وسلو په کارولو سره ترهګريز برید د تصور وړ ګرځيدلی دی.

په نړۍ کې د اټومي ګواښونو په اړه د اندېښنې وړ يو هيواد هغه پاکستان دی. دغه هيواد د کلونو راهېسې خپل اټومي پروګرام پټ ساتلي او تعقيب کړي دی او نن ورځ د پامور اټومي وسلې لري. د اوږدې مودې راهېسې د نړيوالې ټولنې ويره د ګاونډې هند سره د احتمالي اټومي جګړې په اړه متمرکزه وه. خو نن سبا د پاکستاني جنرالانو تر کنټرول لاندې رژيم ثبات او پاېښت تر پوښتنې لاندې راغلي دی.

د 2001 کال د سپټمبر يوولسمې ورسته له امريکا سره د اسلام اباد واکمنو جنرالانو پيوستون او په افغانستان کې د طالبانو ضد په جګړه کې برخه اخيستل. اوس خپله پاکستان د کورنۍ جګړې سره مخامخ دی. د پاکستان ټول پوځي او ملکي رژيمونه د واشنګټن ګوډاګي رژيمونه وو او دي.

د پاکستان اټومي وسلو ازمايښتونو ډراماتيکې پايلې لرلي. په 2002 کال کې د اپريل مياشت کې د مشرف د وژلو لومړنۍ هڅه وشوه. د 2003 کال په ډيسمبر کې پر مشرف باندې دوه نور بريدونه ترسره شول.

پوښتنه دا ده، چې که دا قاتلانه بريد بريالي شوي واې او په ترڅ کې مشرف وژل شوې واې، بيا نو څه پېښيدل.؟ د پاکستان سقوط يا د يوې بلې پوځي کودتا په صورت کې دا هيواد د ځومره لوی خطر مخامخ کيږي.

د 1985 راهېسې پاکستان په دې توانيدلي، چې د 235 درجې يورانيم درلودونکي اټومی وسلې توليد کړي او شاوخوا يو کال ورسته د اټومي وسلو د توليد لپاره کافي چاوديدونکي مواد درلودل. په 1998 کال د مۍ مياشت کې پاکستان د هند د اټومي وسلې ازموينې لړ ورسته د ځمکې لاندې څو اټومي چاوديدونکي توکې وچاودول.

ښايې پاکستان تر اوسه 600 څخه تر 800 کيلو ګرامه په لوړه کچه غني شوي يورانيم توليد کړي وي. ويل کيږي، چې پاکستان له دې څخه تر اوسه 40 اټومي وسلې جوړې کړي او ښايې تر هند زياتي اټومي وسلې ولري. پاکستاني پوځ د اټومي وسلو جوړولو سره موازې د اټومي وسلو ليږدولو سيستمونو پراختيا جوړولو ته هم مخه کړي ده. چين د توغنديو په توليد کې ورسره مهمې مرستې کړې دي. وسمهال پاکستان منځني واټن ويشتونکي توغندي او همدارنګه امريکايي ايف شپاړس او فرانسوي ميراج جنګي الوتکې ممکن د اټومي وسلو وړونکي په توګه وکارول شي او په اختيار کې لري.

د پاکستاني اټومي وسلو امنيت ته ځښت ډير اهمېت ورکول کيږي. ځکه چې د هند د ځانګړو ځواکونو لخوا په پاکستاني اټومي تاسيساتو يا د اټومي وسلو زېرمه کولو تاسيساتو باندې د بريدونو ويره شته. د اټومي وسلو ځاې محرم ساتلو، محفاظت او خوندي ساتنې سربيره د امريکايانو لخوا د هرې يوې اټومي وسلې د انفرادي اجزاوې په جلا کولو سره تضمين شوي دي. د پاکستان اټومي وسلې او د انتقال سيستمونه له يو بل څخه جلا ساتل کيږي. د اټومي وسلو سرخولې نه دي راټولې شوي، په دې مانا چې د يوارنيمو هستې د نورو اجزاوو او د چاوديدونکي مېکانېزمونو څخه بيل ساتل کيږي. په تيرو وختونو کې پاکستان عصري مډرن امنيتي ټيکنالوجي نه درلوده، په هغه وخت کې وسلې په الکټرونيکي ډول نه بندې يا د کارولو وړ نه وې.

په 2000 کال کې مشرف د ملي قوماندې مستقله اداره (National Command Authority -NCA) چې مشري يې ولسمشر کوله، تاسيس کړه. په دې اداره کې د اټومي وسلو پراختيا او احتمالي کاروني پوښتنې او پرېکړې مطرح کيږي. په دې اداره کې د پوځ استازي، لکه دفاع وزېر، لوی درستېز يا د وسله والو ځواکونو قوماندان، د ملي امنيت شورا غړي په انفرادي کميټو کې ناست دي.

## د پاکستان اټومي وسلې اندېښنې

د پاکستان اټومي وسلو بنسټېزه امنيتي ستونزه د اټومي وسلو په ډېزاين يا جوړښت کې نغښتې ده. په داسې حال کې چې د هند اټومي وسلو پروګرام په پلوټونيمو باندې ولاړ دی. د پاکستاني اټومي سرخولې په لوړه کچه غني شوي يورانيم لري. د پلوټونيم په پرتله يورانيم اټومي وسلو ته اجازه ورکوي، چې په نسبتآ ساده ډول فعاليت وکړي، کومو اټومي دولتونو چې په فني او تخنيکی لهذ لړ پرمختګ کړي وې يا حتی د ترهګرو سازمانونو لخوا په ډېره اسانې سره کنټرول يا کارول کيداې شي.

په هر صورت د سړې جګړې له پای ته رسيدو سره د نړيوالو پام په پيل کې د پخواني شوروي اتحاد اټومي وسلو او له دې سيمو څخه د اټومي وسلو او د اټومي تسليحاتي هستوي وسلو تخصصي غير کنټرول شوي پوهې خپريدو ته ورواوښت.

په نيويارک او واشنګټن کې د ترهګرېزو بريدونو او په افغانستان کې د طالبانو پر رژيم له بريد سره سم پاکستان ناڅاپه د نړيوالو څارونکو د توجو مرکز وګرځيد. که څه هم ظاهرآ د پاکستان پوځ او استخبارات د اټومي وسلو خونديتوب تضمين کوي، خو دغه دواړه بنسټونه د افراطي ترهګرو سره د نږديوالې او پټو اړيکو له امله ښه پيژندل شوي دي. د پاکستان پوځ او استخباراتو سربيره د پاکستان لوړ پوړي اټومي کارپوهانو هم د سختدريځو ترهګرو سره نږدې اړيکې ساتلی دي. د طالبانو لومړي واکمنۍ پر مهال ويل کيږي، چې د القاعدې غړو په افغانستان کې د اټومي وسلو په جوړولو کې د پاکستان د اټومي څېړونکو څخه د مرستې غوښتنه کړې وه.[2]

---

[2] Vgl. Terrorists courted nuclear Scientists, in USA Today, 11.12.2003


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په 1980 لسيزه کې د پاکستان اې ايس اې اداري ته د امريکا د سي آي اې له خوا په افغانستان کې د شوروي اتحاد د اشغالګرو سرتيرو په وړاندې جګړه کې وده ورکړل شوه. مشرف پر افغانستان باندې د امريکايي هوايي بريدونو له پيل مخکې د پاکستاني اټومي وسلو له خراب امنيتي وضعيت څخه بنه خبر و. د امريکا له هوايي بريده مخکې مشرف د پاکستان اټومي وسلې شپږو نامعلومو ځايونو ته د لېږدولو امر وکړ. د اټومي وسلو پروګرام کارولو په سيکټورنو کې د قوماندانانو او د نور پرسونل بدلولو کې بدلون هم ترسره کړ.
د رسنيو د راپورونو له مخې ويل کيږي، چې جنرال مشرف حتی په موقتي توګه په چين کې د اټومي وسلو ساتنې او د ذخيره کولو په اړه فکر کړي و، ترڅو د اورپکو ډلو ټيلو حلقو لخوا د احتمالي لاسرسی مخه ونيول شي.

## د امريکا متحده ايالاتو امنيتي اقدامات

واشنګټن د سپټمبر يوولسمې تر ناورين ورسته د پاکستان اټومي وسلو ګواښ او امنيتي ستونزو ته متوجې نه و.
د 2000 کال په لومړيو کې مشرف له متحده ايالاتو څخه د پاکستان د اټومي وسلو د امنيت خوندي کولو په برخه کې د فني تخنيکي مرستي غوښتنه وکړه. متحده ايالات د اټومي وسلو د الکټرونيکي يا بريښنايي امنيتي ميکانيزمونو سيستمونو سره ډيره تجربه لري. د امريکا دغه سيستم د (Permissive Acktion Links- PAL) په نامه ياديږي. دغه سيستم د مجازی ليارې د ورسپارلو شوي عمل لينک نوم لري، په ډېره ډادمنه توګه اټومي وسلې کارول بندوي او يوازې د ولسمشر په امر د پيچلو شميرو او کوډونو په کارولو سره بيا د ضرورت پر مهال خلاصيدلې شي.
د پاکستان اټومي وسلو په قضيه کې د بل کلنټن په مشرۍ امريکايي حکومت پاکستان ته د (PALs) سيستم يا نورو الکټرونېکي تخنيکي فني مرستو ورکولو څخه په لاندې دلايلو ډډه او انکار وکړ. د دې سيستم په ورکولو سره موږ د پاکستان د اټومي وسلې په رسميت وپيژنو او پر نړيوال کچ به مشروعيت ورکړل شي. بل دا چې پاکستان د اټومي وسلو د نه خپرولو تړون (NPT) هم نه دی لاسليک کړي. نو واشنګټن به د اړوندو ټيکنالوجې په ورکولو سره د نافذ شوي نړيوال قانون څخه سرغړونه کړې وي.
د ولسمشر جورج ډبليو بوش له پريکړې سره سم کله چې په افغانستان کې د طالبانو حکومت د پوځي زور له لپاره نسکور شو. د پاکستان اټومي وسلې ستونزه بيا له سره بيرنۍ شوه او لومړيتوب يې وموندلو. په پيل کې واشنګټن يوازې د تخنيکي مرستي چمتو کولو په اړه فکر کاوه، چې مخکې يې هم غوښتنه شوې وه. په هر صورت په چټکی سره دا څرګنده شوه، چې دا به په سيمه کې د ناوړه امنيتي وضعيت په پام کې نيولو سره کافي اقدامات نه وي.
د تخنيکي محافظتي ميکانيزمونو پرمختللي سيستمونو ورکولو ته باثباته فعال دولتي بنسټونه، جوړښتونه او د باور وړ تصميم نيونکي باثباته پروسې ته اړتيا لري، ترڅو وکوالي شي دغه پرمختللي الکټرونيکي شمېريزه کوډونه په خوندي ډول وساتلي شي. په داسې حال کې کله چې ټول رژيم د کورنيو مخالفتونو له کبله د ناکامی يا د سقوط له ګواښ سره مخامخ کيږي، ياغيان يا نوي پوځي حاکمان کولي شي اټومي وسلې سره د اټومي وسلو د خلاصولو پرمختللي سيستمونه او ميکانيزمونه دواړه تر لاسه کړي.
د امريکايانو له نظره، دوی بايد د پاکستان اټومي وسلو ته لږ يا ډير يا مستقيم لاسرسی ولري، ترڅو په خورا سختو شرايطو کې دوی اټومي وسلې د کارولو مخکې خونسا يا له کاره وغورځوي يا له هيواده بهر ويستلي شي.
په هر صورت د دې لپاره د پاکستاني حکومت رضايت يا هوکړې ته اړتيا ليدل کيږي. پوځيانو بايد خپلو اټومي وسلو زېرمو ته د امريکايانو د لاسرسی لاره ورابرابر کړي. دا معاملې خورا محرميت ته اړتيا لري، ځکه چې د پاکستان اټومي وسلو د امنيت په اړه مالومات ښکاره کول، پاکستان کې د لاريونو څپې راوباسي. د دې ستونزې حل دا دی، چې واشنګټن څنګه د پاکستان د اټومي وسلو کنټرول ترلاسه کولي شي، له يوې خوا د اټومي وسلو مهمې حياتي برخې د بېلګې په توګه د يورانيم هسته (Pit) يا د اور لګيدو يا د چاودنې مېکانېزم په برخه کې د ځانګړو وسايلو په ټرانسميټرونو په نصبولو سمبال شي، چې دواړه حکومتونه پاکستان او امريکا د ليږدولو شويو اټومي وسلو موقيعت تل ترينه مالومولي او ټاکلی شي. له دې سره د اټومي وسلو غلا يا په غير قانوني توګه د اټومي وسلو لږد په هر ځای کې ټاکل کيدای شي او موندل کيدای شي. دا ډول ټېکنالوجي د ډېره مودې راهيسې د تسليحاتي وسلو د کنټرول په ساحه کې يا په اټومي وسلو سمبالو هيوادونو کې د (Tagging) اصطلاح ورته کارول کيږي. د اټومي وسلو کنټرول دغه مدرن ميتود د اوږدې مودې راهيسې په اټومي وسلو سمبالو هيوادونو سلاح کوټونو او وسلې ټونونو کې کارول کيږي.
په هرصورت دلته دا پوښتنه هم راپوته کيږي، چې په ترهګرپال پاکستاني غل پوځ باندې د دې پيچلو مدرنو تخنيکي وسايلو اعتبار کول څومره ګران کار دی. د دې تخصصي مسلک متخصصي حلقې کولی شي، چې د اټومي وسلو محافظتي ميکانيزمونه ترينه لرې کړي يا د اټومي وسلو مهمې برخې د ليږدونکي وسلې څخه بېلې کړي، ترڅو د ترهګرو سازمانونو ته انتقال کړل شي يا دوی په خپله بيرته فعالې کړي.
د اټومي وسلو خونديتوب يوه بله لاره دا هم کيدای شي، که چيرې امريکايي ځانګړي کوماندو د (Pitd) سيستم ساتنه او مسووليت په خپله په غاړه واخلي. بيا دوی کولي شي په پاکستان کې د کودتا يا سقوط په صورت کې د اټومي وسلو ساتنه وکړي او يا د نه کارولو وړ يې ګرځوي.
د دې امنيتي مېتود بېلګې يا مثالونه د سړې جګړې په دوران کې شتون درلود. کله چې امريکايي اټومي وسلې سره (Destruction Teams) د تخريب ټيمونه يا په اټومي وسلو سمبال ځواکونو د امريکا څخه بهر په نورو هيوادونو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کې د اټومي وسلو زیرمې کولې په اټومي تاسیساتو کې ځای پر ځای کړي وو. د امنیتي تدابیرو له امله کله چې په کوربه هیواد کې سیاسي حالات ګډوډ کیږي یا له کنټروله وځي، دوی کولې شول خپلې اټومي سلې یو دم ویجاړې کړي.
د 2001 کال په اکتوبر میاشت کې د امریکا بهرنیوچارو وزیر کولن پاول پاکستان ته سفر وکړ. نوموړي پاکستان د اټومي وسلو په خوندي کولو کې د پراخې مرستو وړاندیز وکړ. دا امنیتي اقدامات ظاهرآ د پاکستان اټومي وسلو هراړخیز کنټرول په موخه و. مشرف دغه وړاندیز رد کړ، ځکه پاکستان د خپلو اټومي وسلو کنټرول په مکمل ډول له لاسه ورکولو. [3] څو ورځې ورسته په مطبوعاتو کې داسې راپورونه خپاره شول، چې امریکایي ځانګړي ځواکونه له اسرائیلي کماندو سره په ګډه د پاکستان د اټومي وسلې تر خپل کنټرول لاندې راولي او په بیړني حالت کې اټومي وسلې له هیواده بهر ایستلو ته چمتووالي نیسي.
د همدې کال د نوامبر په میاشت کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر عبدالستار اعلان وکړ، چې د امریکایانو وړاندیز ومنل شو. له دې ورسته پاکستاني کارپوهان د امریکا لخوا په کار اچول شویو امنیتي اقداماتو باندې خبر کړل شول. دغه بیان واضع ښیي، چې امریکا ته د پاکستان د اټومي وسلو د امنیتي اقداماتو په اړه پوره واک او اختیار ورکړل شوي دی.
لږ موده ورسته د بهرنیو چارو وزیر عبدالستار یو بل بیان ولوست، په دې بیان کې ویل شوي و، چې د پاکستان اټومي وسلې د (foolproof custodial control) د بې خطره کنټرول لاندې راوستلې شوي دي، پرته له دې چې په دې بیان کې مشخص کړي، چې د پاکستان د اټومي سلو ساتونکي څوک دي. [4] د دغو کلماتو انتخاب هم په سیمه کې یو شور جوړ کړ او توده بحثونه یې راوپارول، دا بیان داسې تعبیر شو، چې ګواکې امریکا د پاکستان اټومي وسلو ته لاسرسي موندلي دی.[5]

## د اټومي وسلو خوندي کولو لوړه بیه

دا سمه مالومه نه ده، چې پاکستان په ریښتیا سره د خپلو اټومي وسلو کنټرول په بشپړه توګه امریکایانو ته ورپرینښی دی. په هر صورت څو د پاکستان اټومي وسلو ته د امریکایانو لاسرسی ظاهرآ ډېر پراخ دی. هغه څه چې د پاموړ دي، د امریکایي حکومتونه دې مهمې موضوع ته په خورا ارامښت، پرته له کوم تشویشه تماشا او نظر کوي. که څه هم دا پوښتنه د 2001 کال ترپایه پورې واشنګټن لپاره خورا لوړ لومړیتوب درلود. څو په اوس وخت کې د پاکستاني حکومتي چارواکو د اټومي چاودنو او ازمایښتونو له هڅو سره سره په دې اړه ډېر لږ بحثونه کیږي.
د 2004 کال د جنورۍ په میاشت کې د یوه خبري کنفرانس په ترڅ کې ولسمشر بوش دا پوښتنه رد کړه. چې ایا د پاکستان اټومي وسلې امنیت خوندي دی، ولسمشر بوش یوازې د (هو) په ویلو سره موضوع بدله کړه. همدارنګه له دې ورسته د هند حکومتي چاراوکو هم د پاکستان د اټومي کرکیچ د ثبات په اړه خپله خوښبیني هم څرګنده کړې ده. واشنګټن په ښکاره توګه خپل هدف د ګواښونو، د ځینو مرستو او ملاحظاتو له لپاره ترلاسه کړي دی. په هر صورت بیه یې لوړه پرې کړې ده. پاکستان له امریکا څخه درې میلیارده ډالر اقتصادي مرستې ترلاسه کوي.
په 2004 کال کې د جولاې په میاشت کې امریکي کنګرس 700 میلیونه ډالر تصویب کړل. په دې ورستیو کلونو کې پاکستان له یوه ممنوع شوي او منظوي شوي دولت څخه د امریکا یو متحد دولت په توګه په سیمه کې راپورته شوي دی. له دې امله امریکایان د پاکستان ډیکټاتوري ظالم رژیم طبیعت او په سیمه کې ترهګرېزو کړنو ته پام نه کوي او د بحث وړ ورته نه ښکاري. واشنګټن د مالي مرستو سربیره سیاسي ژمنې هم ورسره کړي دي. د متحده ایالاتو څخه یې داډ ترلاسه کړي، چې د خپل اټومي پیاوړي ګاونډي او اصلي دبنمن هند هڅه ونه کړي، څو د پاکستان د اټومي ځواک کمزورتیا څخه ګټه پورته کړي.
په نهایت کې د پاکستان په اټومي وسلو سیکټور کې د امریکا مداخلت او ښکیلتیا د نړیوالو قوانینو له مخې مشکوکه ده او د نافذه قوانینو خلاف ده او دا اړیکې د اټومي وسلو د نه خپریدلو تړون (NVV) په رڼا کې د پوښتنې وړه دي.
په هرصورت امریکا دا لوړه بیه په یوه خورا حساسه او بې ثباته سیمه کې د خپلې ملي ګټې لپاره د یوه بې ثباته او سقوط ته ورروان ظالم پاکستاني رژیم د اټومي وسلو پوټنسیل خوندي کولو لپاره بیهوده هڅې ترسره کوي.
پاکستان میزایل او توغندي لري، څو سري نه لري، د میزایلو نومونه یې زموږ د وياړلي تاریخ د سریو پرې ایښي دي.

پای

## د لیکوال: آرشیف

[3] Vgl. David Albright, Securing Pakistan´s Nuclear Weapons Complex, Institute for Science and International Security, Washington, DC, 2001.
[4] Vgl. Ramindar singh, Covering September 11 and its Consequences, Joan Shorenstein Center
[5] Vgl. Are Pakistans Nuclear Weapons Now Under US Control?, in: The Hindustan Times, 30.09.2002


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ